مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ګل جان صابر
۲۰۲۱/۱۱/۱۸

# د مزدورۍ پیسې

و نه و یو بزګر و. هغه د یوې تیارې ښخه تر بلې تیارې پورې په خپله ځمکه کې کار کاوه، ځمکه یې د ډېرو ښخه پاکوله، غلې دانې یې کرلې او د هغوی ښارنه یې کوله.
د بزګر لپاره د کار کول آسانه نه و خو د مرستې څوک یې نه لرل.
بزګر داسې یو ټنبل زوی لرلو چې د ده په څېر بل ټنبل په ټوله نړۍ کې نه پیدا کېدو. پلار به سهار په تیاره کې کروندې ته تلو او ماښام تیاره به بېر ته کور ته راتلو خو زوی به د سهار ښخه تر ماښام پورې بېکاره ګرزېدو.
پلار ورو ورو سپین ږیری کېدو او د کار کولو توان یې له لاسه ورکاوه. هغه کولی شول خپل زوی دې ته اړ کړي چې په خپله ځمکه کې کار وکړي خو دا یې بښه وبلله چې کوم چېرې یې مزدور کړي.
بزګر خپل زوی ګاونډې کلي ته بوت او هلته یې د کال په یوه طلا مزدور کړ.
کوربه دې ته حیران شو چې سپین ږیري بزګر ولې خپل زوی په دومره لږ اجوره له ده سره مزدور کړ.
«کوربه له ځان سره فکر وکړ: داسې ښکاري چې سپین ږیری بزګر شتمن دی. هغه هسې خپل زوی له ما سره مزدور نه کړ. د دې لپاره چې سپین ږیری خوابدی نه شي زه به دا هلک کار کولو ته اړ نه کړم».
ټنبل همدا غوښتل. په خوښۍ یې شپې او ورځې تېرولې، سهار ناوخته له خوبه را پاڅېدو، ښه خواړه یې خوړل، ښه کالي یې اغوستل او خوشاله و.
کال چې پوره شو کوربه ټنبل ته یوه طلا ورکړه او په خوشالۍ یې رخصت کړ.
ټنبل چې کور ته راغی پلار پوښتنه ځنې وکړه:
- زوی جانه، وخت د خرنګه تېر شو، کار د خرنګه و؟
- د سهار ښخه تر ماښام پورې مې پر لیسې بې له دې چې آرام وکړم، کار کاوه. کوربه له ما ښخه خوشاله و.
زوی پلار ته طلا ورکړه او هغه بې له دې چې پیسو ته وګوري اور ته یې وغورځوله.
ټنبل هېڅ و نه ویل. هغه دې ته هم فکر و نه کړ چې پلار ولې پیسې اور ته وغورځولې. ټنبل د پلار ښخه ولاړ او پرېوت. څه پروا لري پیسې ـ یوه طلا ده!
پلار یوه شو چې زوی یې په هېڅ نه دی پوه شوی نو ځکه یې پرېکړه وکړه چې کوم بل چېرې یې مزدور کړي. هغه خپل زوی بل کلي ته بوت او هلته یې له یو چا سره مزدور کړ.
نوي کوربه هم د پخواني په څېر فکر وکړ چې سپین ږیري هسې خپل زوی له ده سره مزدور کړی نو ځکه یې هغه کار کولو ته اړ نه کړ.
کال د سترګو په رپ کې تېر شو او ټنبل بیا هم یوه طلا تر لاسه کړه.
ټنبل چې کله خپل پلار ته راغی نو هغه پوښتنه ځنې وکړه:
- زوی جانه، خرنګه، کار د وکړ؟
زوی ځواب ورکړ:
ـ د یوې تیارې ښخه تر بلې تیارې پورې مې کار کاوه، دا مې هم د کار اجوره ده.
ـ ته دا پیسې ما ته راکړه!
زوی طلا پلار ته ورکړه او هغه بیا هم بېله دې چې هغو ته وګوري پیسې یې اور ته وغورځولې. ټنبل بیا هم هېڅ ونه ویل. هغه ان پوښتنه هم و نه کړه چې پلار ولې پیسې اور ته غورځوي. ټنبل ولاړ او پرېوت. فکر وکړه پیسې - یوه طلا!
پلار ولیدل چې دوه کاله هسې تېر شول نو ځکه یې پرېکړه وکړه چې زوی د دریم ځل لپاره کوم چېرې مزدور کړي.
پلار خپل زوی لیرې کلي ته بوت او هلته یې د یوه بېوزله بزګر سره مزدور کړ. د بزګر په کور کې د خوړو لپاره ډېر کسان وو خو د کار څوک یې نه لرل.
سپین ږیري پلار بېوزله بزګر ته وویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

- مالومېږي چې ستا ژوند ښه نه دی او مرستندوی نه لرې. زه خپل زوی یو کال له تا سره پرېږدم: هغه ته لکه چې لازمه ده کار کول ور زده کړه، هېڅ اجوره هم مه ورکوه!
نوي کوربه ټنبل دې ته اړ کړ چې د ده په څېر کار وکړي. دوی به د سهار په رڼا پورته کېدل، ټوله ورځ یې بې له دې چې آرام وکړي کار کاوه او ماښام به داسې وخت کور ته راتلل چې آسمان به له ستورو ډک و.
ورځې ورو تېرېدلې او ټنبل ته هره ورځ ډېره اوږده ښکارېدله. د هغه لپاره ستونزمنه وه چې له داسې کار سره ځان عادت کړي: خولې یې په مخ را روانې وې او کوربه اجازه نه ورکوي چې پاکې یې کړي.
په لومړي سر کې ټنبل ډېر په تکلیف و خو وروسته له کار کولو سره بلد شو، ان داسې چې بېکاره کېناستل یې نه خوښېدل. وروسته له دې بیا هم وخت ډېر په تېزي تېرېدو.
کال پای ته ورسېد.
هلک اوس پخواني ټنبل ته نه و ورته: ښکلي کالي یې زاړه شوي او لاسونه یې ټناکې وو.
هغه وخت راورسېد چې هلک باید کور ته ولاړشي. کوربه د خدای په امانې په وخت کې هغه ته وویل:
- ستا پلار زما څخه ستا د مزدورۍ هېڅ اجوره نه ده غوښتې خو څرنګه چې تا ښه کار وکړ نو زه تا ته دوې طلاوې درکوم، ځان ته به نوي کالي رانیسې.
هلک چې کور ته راغی نو پلار پوښتنه ځنې وکړه:
- زوی جانه، کار دې څرنګه و؟
- ښه کار مې وکړ.
- کوربه د کار اجوره درکړه؟
- هو، زوی دا وویل او پلار ته یې دوې طلاوې ورکړې.
پلار بې له دې چې طلاوو ته وګوري هغه یې اور ته وغورځولې.
زوی زغم ونشو کړی، په لوڅولاسو یې د اور د سکروټو څخه پیسې را وایستلې او په لوړ غږ یې وویل:
- ولې د مزدورۍ پیسې اور ته ور اچوې!

د کابردین د خلکو کیسه

ژباړونکی: ګل جان صابر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ